# مه يې وژنه، ځکه چې که ته هغه ووژنې، نو هغه به ستا په ځېر وي مخکې له دې چې ته يې ووژنې، او ته به د هغه په ځېر شې مخکې له دې چې هغه کلمه ووايې، هغه چې ويې ويله

له مقداد بن عمرو الكِندي رضی الله عنه څخه روایت دی چې: هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: څه فکر کوې که زه د کفارو له یوه سړي سره مخ شم او جګړه مو سره راشي، هغه زما یو لاس په توره ووهي او پرې يې کړي، بیا زما څخه یوې ونې ته پناه یوسي او ووايي چې؟ الله ته مې غاړه ایښودلې ده (یعنې مسلمان شي) نو آیا زه يې لدې وینا وروسته هغه وژلی شم اې د الله رسوله؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «مه يې وژنه» هغه وویل: اې د الله رسوله! هغه زما یو لاس پرې کړ بیا يې دا کلمه وویله؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "مه يې وژنه، ځکه چې که ته هغه ووژنې، نو هغه به ستا په ځېر وي مخکې له دې چې ته يې ووژنې، او ته به د هغه په ځېر شې مخکې له دې چې هغه کلمه ووايې، هغه چې ويې ويله".

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

مقداد بن الاسود رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې که له یوه کافر سره په جګړه کې مخ شي او دواړه سره په توره وجنګیږي، تر دې چې کافر د هغه یو لاس په توره ووهي او پرې يې کړي، بیا ترې کافر وتښتي او یوې ونې ته پناه یوسي او لا إله إلا الله ووايي نو آیا ماته يې وژل روا دي، په داسې حال کې چې زما لاس يې پرې کړی دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مه يې وژنه. هغه وویل: اې د الله رسوله! هغه زما یو لاس پرې کړی دی، آیا سره له دې يې هم ونه وژنم؟! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مه يې وژنه، یقینا چې د هغه وینه تویول پر تا حرام شول، ځکه که هغه دې له اسلام راوړلو وروسته وواژه، نو هغه به ستا په ځېر شي چې په اسلام راوړلو سره يې وینه معصومه وګرځي، او ته به د هغه په ځېر شې چې د هغه په وژلو قصاص شې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4815

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee